


Ketabton.com

This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributior
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers t

(c) ketabton.com: The Digital Library

L.No.15 15/-

# جهان زیبی

## مشاعره

۵۴ ۱۹ء

۱۲ / دسمبر

باهـــــــتمام

## سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگوره سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library

No: 15
16.6.57

۷۸۶

# جهان زیبی

# مُشاعِره

زیر سرپرستی سیفُ الملوک صاحب

صدیقی ریاست سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضانِ سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date
KADAL Swat



غازی ملت حکمران سوات



# تمهیدِ کتاب

چونکه سنکال دَ حضورِ اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبدالحق جهان زیب خان
صاحب حکمرانِ ریاستِ سوات دام اقباله دَ
جشنِ سالګیرۍ سنه ۱۹۵۴ء دَ ۱۲ د سمبر
پحقله حمونږ دَ خوګ وطن ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقی یو خلور طرحے دَ خپل فکر
دَ نتائجو نه منتخب کړے په هغوی باندِ ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات ښکاره کړه
لهذا مونږ دَ یو مجموعے په طور په خدمت دَ حلقهٔ احباب
او دَ ناظرینو دَ جشن کښ پیش کوو:۔

(ګر قبول افتد زهی عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

# د نظمونو فهرست


| شمېر | نوم د شاعر او د هغه نظم | مخ | شمېر | نوم د شاعر او د هغه نظم | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تمهید کتاب | ۲ | ۱۱ | سلطان محمد صاحب | ۶۶ |
| ۲ | سیف الملوک صاحب صدیقي | ۴ | ۱۲ | شیر صاحب | ۷۸ |
| ۳ | فضل الرحمان فیضان | ۱۳ | ۱۳ | مهر النساء صاحبه بانو | ۸۰ |
| ۴ | حبیب الرحمان حبیب صاحب | ۲۳ | ۱۴ | پیر محمد خان صاحب | ۸۳ |
| ۵ | امیر حمید صاحب | ۳۳ | ۱۵ | محمد نوشیروان صاحب | ۸۹ |
| ۶ | ایاز صاحب. کراچي | ۴۴ | ۱۶ | شیر افضل صاحب | ۹۶ |
| ۷ | عبد المالک صاحب فکري | ۴۷ | ۱۷ | خانې قصاب صاحب. | ۱۰۰ |
| ۸ | شیر محمد خان صاحب مینوش | ۵۵ | ۱۸ | دلاور خان صاحب | ۱۰۶ |
| ۹ | احمد جان صاحب نشتر | ۵۸ | ۱۹ | د ناظر سوئېر مت خن بکښ. | ۱۱۸ |
| ۱۰ | مولوي ضیاء الحق صاحب | ۶۳ | ۲۰ | د عقیدت ګلونه | ۱۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سوات

## طرح

یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

رازه تماشه اُوکړه هر طرف ته ځما الله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

رازه تماشه اُوکړه دَ اقبال ختلے نمر دے
مولی په لوئ احسان راکړے دا در یتیم اختر دے
خوشحاله قام په دے چه جهانزیب دَ دوئ رهبر دے
بل کوره ځما دوره چه نن با ۱۲ ره د سمبر دے
هُم رُو به ترقی دِ دوی داجشن کال تر کاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله



اُوس جوړ دَ ترقی ځونږ دَ پاره دِی اسباب
ختلے په عروج دَ سوات تاریخ دے په هر باب
مالیار چه دَ گلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
دَ سیال سره چه سیال کړو موږ والی عالیجناب
دا ټول دَ ده همت دے ځان خبر کړه دا حواله
یو زه نه یم چه په دے یمه خوشحاله

صحت دِ رله در کړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان، واړه هر یو په دے ساعت مسرور دے
فرمان چه څه کوے په صدق موږ ته منظور دے
دَ قوم دَ ترقی خدمت دِ نوراً علیٰ نور دے
شړی دِ دَ وړی شو له بهتر دَ زرین شاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یمه خوشحاله
وطن دِ باغ ارم کړه ځوک نا شکره دَ احسان دی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشکره به هغه وی چه په مثل د شیطان دے
اصیل به خوشحالیږی په مونږ فضل د سبحان دے

حِصه د منافِق دلته هم هلته کښ نیران دے
محروم به ژوند کښ نه کړے صدیقی د خپل وصاله

یو زه یوازے نه یم چه به دے یم خوشحاله

طرح

طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

نن باره دسمبر دے پتنګان را غله په شمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

نن باره دسمبر دے خوشحالی ده په هر لور
هر خوا ته نظر اوکړه چراغان دی کور په کور

غنچې شنے د خندا نه پړے بلبلے کوی شور
دعا کوی سلطان ته چه یے ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه یے شته د بل نه طمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

خندا ده خوشحالی ده په چا نشته درد و غم
دعا کوی الله ته د خپل والئ اعظم

ادیب شاعر چه ولاړ دی کړه قرطاس ته خپل قلم
اوصاف د جهان زیب لا پوره نه وو ذره شه خم

جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د چا لمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

رښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے
داهم د خدائ د لوری پمونږ فضل عنایت دے

خندیګو، خوشحالیګو په هر ځائ څمونږ وقعت دے
غمخوار د هر یو کار بخیله غازئ ملت دے

په تا چه څوک خفه وی ما رب دے زر ترو زه کړی قمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شکر نن اُو نه کړی دا بد بخته بیں کردار دے
خلاف دَ اُولی الامر په تحقیق کښی ګنهګار دے
تعمیر انصاف دَ سوات په مثل بل په کوم دِیار دے
صحت دولت دَ علم کړه حاصل که ستا پکار دے
حق وایه صدّیقی حق ته دِ ټهیک و نیسه سمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

## طرح

### هر سړی موندے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

داسے تجربه مے په تحقیق کښی دَ احساسه ده
هر سړی موندے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
هر سړے دِ فکر ځان ته نن او دَ پرون اُو کړی
فرق په رشتیا دِ دَ وصال او دَ بیلتون اُو کړی
بل دَ ذره په سترګو دِ کتنه دَ ګردون اُو کړی
شکر دَ الله دِ په دے عهد دَ مامون اُو کړی



ستره چه ماضی ځونږ دَ حال دَ انعکاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
نشته یو مثال چه به وِی دا دَورو دَوران دَ چا
نه به یو منصف، عادل، بیدار وِی حکمران دَ چا
نه به زیب زینت لکه ځونږ وی په جهان دَ چا
داسے رقیبان به په تعجب نه وِی حیران دَ چا
لویه تجربه دِ دَ لقمان او بلیناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
تا دَ ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے
بل دِ دَ صحت تعلیم عجب غوندِ تدبیر کړے
بنګلے کور په کور چه انتظام دِ دَ تنویر کړے
هر ځائے کښی انصاف دِ دَ غریب او دَ امیر کړے
ځکه خَیْرُ النَّاسِ وَمَنْ یَّنْفَعُ النَّاس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرې زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوي
خدائے گواه که انسان وي دے به فخر ستا په ذات کوي
یا وه قتل خون یا مطالعه د کائینات کوي
ځکه هر یو کس په دے خلوص صدق صفات کوي
هر ځائے اوریدے صدیقي د حق شناسه ده
هر سړي موندلے لوے برخه ستا د لاسه ده

---

طرح

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

---

محفوظه خزانه وي چه پلاس کښې د آمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

په صدق چه خدمت کوي مالیار د گلستان
بلبل ورله راغواړي بل ترے لرے کړي زاغان
زاغ وزغن چه نه وي هر بلبل شي ثناخوان
هم دا د وطن حال وي چه عادل وي حکمران



گویا په دغه قوم فضل د رب العلمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

مشهور په تواریخو کښې دے عدل جهانگیر
ترلے د انصاف د باره ده به ووه زنځیر
مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په ویر
وئیل به ئے فریادي ته راته اوود کړه تقریر
سلیم په دغه وصف یادیږے په تحسین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

یو څو خبرے واوره ته د غازي ملت
رښتینې نگهبان دے د خپل ملک او رعیت
پخپله د سپاهي پشان ولاړ وي په خدمت
فریاد د فریادي اوري هر ځائے په هر ساعت
اوصاف ئے نه ختمیږي که هر وصف په تضمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دَه په برکت باندِ وطن څمونږ سمبال دے
هر یو ته په خندا دے هر یو کس ته په نیک خیال دے
دَ دَه دے نظم نسق ته هر یو سړے لیوال دے
تعمیر دے صدیقي په دے زمان کښې بې مثال دے
مُمِد او معاوِن دِ دَ دَه رب په هر یو حین شي
دروغ نه دِي رشتیا دي په رشتیا که دِ یقین شي

---

# سیف الملوک صاحب

## صدیقي سیدو شریف

PUKHTO.NET



# فضل الرحمٰن فیضان شاعرِ خوشنویس ریاستِ سوات

---

## طرح

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

راځه ګله راځه چه دِ خبر کړمه دَ حاله
دانه چه بیا ځمانه ته ګلِه کوے صباله
ن بارَه دسمبر ستر ګے وهي څمونږ پلور
یو ناوے دَ مکیز دا خله شوه څمونږ په کور
ګلونه دَ عِشرت دَ زړه په باغ کښې شو سمسُور
دَ سوات په ګلستان کښې بلبلان ګړه شو په شور
خوشحاله خوشحالي ده نن دَ هر سړي دَ خیاله
یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

په جوش د محبت کښې د سیماب غوندې رقاص شوم
د عام نه جدا شومه د خاص سره خاص شوم
میدان د تصوّر ته ورد ننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې ورپکې لکه غوّاص شوم
خارج م کړه لعلونه چه تول ډک دے له کماله
د شاه د تاجپوشۍ په تاج جاوم کړه آلاله
نن جشن د حضور دے که د نوي اختر هلال
دا بدر د کمال دے که یو ستورے د اقبال
یا ښکلے پلوشه ده د سرو هي پوره په کال
یا دا چه په هجران پسے مدام راځي وصال
نن جونه د جشن تماشے کړي د دیواله
نوي ډنګے غمزانګے سره جوړ کړي د سوشاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندې خوشحاله



د خیال په آئینه کښې در ته ښنا یم یو تصویر
په هوش شه هسې نه چه شي د ځان په هوا گیر
د سحر د جادو نه در ته ډک کوم تقریر
اثر به هله اوشي د ضمیر نه په ضمیر
**فیضان** خپل تخیّل کړو د شاه مینے ته لیواله
الفاظو ئے په زخم د زړه کېښوده دسماله

---

## طرح

**طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع**

---

یو وزرے زړه د سیل د پاره تلے وم صحرا ته
گلشن د خوشحالۍ کښې گرزیدم مرزه هر خوا ته
یو زړے عجیبه بهار په غوگ کښې اوړے ماته
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library
PUKHTO.NET



دَ سوات په ګلستان کښې نن چغیږی بلبلان
محفل ته دَ ادب واړه غونډیږی ادیبان
په یادو دَ سلطان کښې مشغولیږی شاعران
دَ جشن په جوبن کښې بیا او بیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خند کیناسته جمع

دَ باره ۱۲ دسمبر تاریخ بر یادوی په هر حال
چه داسے سالګره یکښې کیدے شی هر کال
خوشحاله خوشحالي ده نن دَ هر سړی په خیال
دَ جشن په دے شپه کښې تر صبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خند کیناسته جمع

دَ جشنِ فریدون او دَ نوروز نه دَ جمشید
ځمونږه جشن زیات دے دا ځمونږه دے یو عید
آزاده آزادی ده یکښې نشته دَ غم قید



یو ښکلی محفل کښې شاه ګل کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خند کیناسته جمع

یو سیل دَ تماشه ده په ځای ځای په مکان
تاریخ تازه کول دِی نن دَ سوات دَ حکمران
دا ځکه نن راغونډ شولوی واړه زاړه ځوانان
دَ دې خوشحالئ نه په رښتیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خند کیناسته جمع

دَ اُنجاس نه دَ چوړا پورے اوشُو داسے یاد
په باره ۱۲ دسمبر کښې حاصلیږی ځمونږ مراد
فیضانه حکمران دِ ځمونږ تل وی زنده باد
نن عام و خاص دَ پاره دُعا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خند کیناسته جمع

## طرح

## هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ډیر ډیر فوائد د رسولی دی جهان وته
لاس د دلاسه د دے پسر هر یو انسان وته
نشته دے سلطانه د عیان نه څر بیان وته
هره نتیجه د د حدیث د خیر الناس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاص د هر یو رنځ دارو یے دا سے مسیحا یے ته
چو ته مره ور نه یے خو هر چا نه بخلا یے ته
هم حمونږ د غم د شپے د پاره یو صبا یے ته
هره فائده ستا حمونږ د پاره بے قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده



ستا په لوی همت سره د سوات او وطن آباد شه بنه
علم د ازده کړه ورنه جهل نه آزاد شه بنه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښی یاد شه بنه
دا د سوات ټوټه ځکه اوس خلاصه د افلاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د قوم د پاره هم پوره کړه ضرورت واړه
تا د ترقۍ په عروج چوت کړه ریاست واړه
ځکه دے لګیا نه ټول خوشحاله رعیت واړه
ستا مهربانی د نوے بلے نه لګیا سره ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

جشن د دے باره دسمبر د مبارک وی ستا
دیره خوشحالی د اے سلطانه یو په لک وی ستا
ستورے د اقبال د تل روښانه په فلک وی ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دُعاء څمونږ ده ستا په حق کښې بے وسواسه
هر سحري مونږ لے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته دِ ژوندے بادے حکومت دِ ستا مدام وِی تل
سورے دَ رحمت دِ ستا پمونږ علی الدوام وی تل
هم دِ دَ **فیضان** حقیر پیتا دعا سلام وی تل
دا ښادی شروع څمونږ دَ اُنیس سو اُنجاسه ده
هر سحری مونږ لے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح

درواغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

تو ردی که سره شنه دی هم که زیړ دی او که سپین شی
دا که په یو رنګ شی نو بیا جوړ به تر آئین شی



راشه دوه رنګی پریږده په یو رنګ سره رنګ شه
ته کښے عاشق نو دَ آشنا دَ در ملنګ شه
زړشه دَ باطل دَ پاره غشے دَ خدنګ شه
دوست به دِ خوشحاله شی دشمن به دِ غمګین شی
داسے کارنامے به دِ بیا لوړے تر علّیین شی

Govt. High Secondary School
Acc No—
Date
KABAL Swat

ځان دَ اِتحاد په رسی اُوتړه محکم بته
زهر دَ تفریق دَ میڼے نه واړه کړه مدغم ته
زړه دِ به چاره دَ شاه دَ میںے کړه قلم ته
څوک چه داسے کار کړی په رشتیا سره ناز بین شی
دا خبره درواغ نه دی په رشتیا که دِ یقین شی

راشه دروازه دَ یقین اُو وَهه په زوره
ځل یقین دِ خاص کړه بیا هله لمتوه نو ره
ولے ته دیده او دانسته ګورے شمکوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چه د اخلاص په جامه پټ شي نو آمين شي
تېغ نه وي بيا خلقو ته دېر ځوک لکه کبين شي

ته په صداقت د جهانزيب د در غلام شه
ښکار لکه مارغه د محبت د ده په دام شه
ځو به يې بدنام ته د وفا په نوم نيکنام شه

مخ په صدق ويخه چه روښانه د جبين شي
هله به بيا رونړ در ته د يار د مخ آئين شي

خيال کړه مه مجبوره زه په دے معما کا نو
دا تشے قصے نه دي که وا وري هوښيارانو
دا يو معمه د مطلب د که ده يارانو

وائي **فيضان** تا سو ته که پوهه پرے دوربين شي
کوزه بايه بره، بره کوزه د خودبين شي

فيضان سواتي عفي عنه سيدو شريف



# ښاغلے حبيب الرحمن صاحب حبيب اديب کالوج سوات

## طرح

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

نن بارهٔ دسمبر دے هر سړے کړي له خياله
بو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

نن بيا هغه تاريخ دے هغه مياشت د دسمبر
ختلے چه پرے تخت وه والي صاحب بهادر
هر چا ته هر سړے راځي خوشحاله په نظر
دا ز يا ته خوشحالي د پرے رسيږي د بل کاله
يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له د والی صاحب والی
یو زه یواځے نه یم چه پړے کومه خوشحالی
د سیالان سره چه سیالان نه دی هغه کوی سیالی
معموره هم مسروره پرے د ورځ وینم بد حاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

داورځ د خوشحالی ده نن د هر یو مسلمان
هر ځائے کښ خوشحالی ده په هیچا نشته خفګان
تاریخ د تاجپوشئ چه دے ځونږ د حکمران
وه چه زبون حال هغه نن دے زبون حاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

داورځ د خوشحالی د اهلِ سوات د اقبال
د باره ۱۲ دسمبر ده مبارکه د دے کال
ده دا سے خوشحالی لکه د عید په هلال



دا باره دسمبر یکښ تاریخ وینم نیکفاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

آمان د انقلابه نه ځونږ دِ حکمران وی
دنیا کښ ترڅو پورے چه دا زمکه دا آسمان وی
هم دا سے دِ په قام بانډِ مشفق ځونږ سلطان وی
دعا د حبیب داده اے خالقه لایزاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

PUKHTO.NET

---

## طرح

## طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع
نن باره دسمبر دے شاه ګل کیناسته جمع
دا باره دسمبر یو لوی اختر دے د اولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو سړی ته ګورم چه کوی خندا هوس
د دې یرې خوشحالۍ نه په هر ځای کښې دے مجلس
حسد او کینه لاړه نن اعدا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

بے حده خوشحالي ده ریاست کښې کور په کور
چه ورځ د تاجپوشۍ ده د والي صاحب غمخور
په زیاته خوشحالۍ له کټه پاخیده رنځور
آغوستے ښے جامے خلقو زیبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ټول خلق راغونډ د خوشحالۍ شو په میدان
هر یو کړي خوشحالي په تاجپوشۍ د حکمران
په هر کلي د سوات کښې په هر ځای په هر مکان
محفل د خوشحالۍ کښې یار آشنا کیناسته جمع



امیر دے که فقیر دے کړے هر یو را انتظام
عیشونه دي جلسے دي ، دعا ګانے کوی قام
څوک چه بے آرام وه هغه وینم په آرام
په خوان د دے سلطان ادنیٰ اعلیٰ کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ښکاریږي هر طرف ته دروازے ښې مزه دارے
حیران ښي په دے ورځ چه مسافر درومي پلارے
نوروالي مسافر خنګه اختر شه په تلوارے
حبیب والي کاروان تړ په سودا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طرح

هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضور دَ ما ایستلے بادشاهي ستا سو قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
موندلے لویه برخه هر یو کس لَتا سلطا نه
احسان مالي جاني کوے دَ هره مسلما نه
بیا خاصکر په عاجزو ئے بے حدّ مهربا نه
هم ډیر د احسانو نه هم جزا دِ سمه لاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
په مثل دَ حاتم دِ حکمرا نه سخاوت دے
لایق دَ ډیر تحسین دَ آفرین دِ حکومت دے
دَ عدل دَ انصاف دِ په کلي جهان شهرت دے
ستا فیصله هره دَ میزان او دَ قسطاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
هره فیصله کړے په انصاف عدل پسند ئے



پر دے نوم دَ انصاف په تمامي جهان سرګندے
موصوف په دے اوصافو په چترال په ډیر دربندے
تعریف دِ دنیا ټوله کړي دَ لاندِ کم لیاسره ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
حاکم دِ وی حاکم چه ورېکښ عدل انصاف وی
صدق چه له بهره دَ رشوته ځنے صاف وی
مجرم چه جرم اوکړی په اقرار باندِ معاف وی
له دے نه چه خلاف شی بیا توبه دِ دَ خناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
خاوند دِ خه نصیب کړه زیاتے له دے نه بنه اقبال
خبر کړې مظلومان دِ په انصاف عدل خوشحال
محصون دِ له ګردش دَ انقلابه او سه آل
دعا دَ مظلومانو تیره سخته دَ الماسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن بارہ د سمبر دِ تا جپوشی دہ حکمرانه

دا نیک فال تاریخ دے هر یو کس و ینم شا دانه

دا ورځ له اختره کمه نه ده مهربانه

هره خوشحالی د کال د هر یو د پاسره ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

دا حبیب له صدقه خیل مالک ته به دے سوال کښی دے

تل د تضاعف د سالگیرهٔ دِ کال په کال کښی دے

بل د نیکنامی غرض دے هر زمان په خیال کښی دے

دالارد نجات هر مسلمان له بے وسواسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی



سوات ته چه خوک راشی پوهٔ د رحمت د زمتین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

لا به چه یو ظالم او بل مظلوم شی عدالت ته

دیر په خوشحالی مظلوم راضی مظلوم غمگین شی

زغلی عدالت ته مظلومان له هر طرف نه

سوال د دوی قبلیږی په یو خفه ظالم بدین شی

په سوات کښی مساوات د معتبر او د غریب دے

حق رسی دے کیږی که خوک خان او یا مسکین شی

زیات له موره پلاره مهربانه شاه په قام دے

بیا په کومه وجه رعیت به تر غمگین شی

ن په انتظام باندِ خوشحاله رعیت دے

نه غواړی هیڅکله چه بدل دِ دا آئین شی

PUKHTO.NET

رحمت په هغه چاوی چه مطیع د حکمران وی
د شاه نه چه خلاف شی هغه رور د شیاطین شی
د غلو شو کمارو نشته مسافر سره خطر
نه فکر لری غم که په صحرا سر په بالین شی
حبیب والي نصیب دې د والی عمر د نوح شی
د قام ده دا دعا د فرشتو دې پرې آمین شی

---

حبیب الرحمن حبیب

گالوچ - سوات



## ښاغلی امیر حیدر صاحب بونیری
## ریاست سوات

---

### طرح

یوزه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله

---

یوزه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله
دا باره دسمبر دې خدای محفوظ کړی دزا والله
یوزه یوازې نه یمه خوشحاله بتول جهان دې
د سوات په ښکلی زمکه جهان زیب چه حکمران دې
مرغی والی سند دې چه دا خنک امن آمان دې
مولی دې په ښادی لوی دا کال تر بله کاله
یوزه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله
مولی دې په ښادی سره لری د والی ذات
ذات د ده خوشحاله وی خوشحاله وی سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



پہ عدل پہ انصاف کښې شاہ آغستي دي صفات
قدم نقش قدم یې هر یو ډک دی د کماله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

قدم نقش قدم یې ځوي په ده د اسلام
اسلام هغه اسلام وي چه یې درست خیرژي انجام
انجام د نیک خویونو په والي کښې دي تمام
د ملک او د ملت خبر نه ده ترې محاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

د ملک او د ملت په محبت کښې وي غرقاب
د خوار و غریبانو په خدمت کښې وي غرقاب
قانون یې د شریعت کښې وي غرقاب
آوازې د توحید دې اوریدلې د بلاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله



آوازې د توحید دے اوریدلے برابر
خدای رسول ته درست وي هغه او کړي مقرر
یو ورزے د باغچې بلورے تله امیر حیدر
بلبل ته گل ویلو چه به ته راځې صباله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې د گلونو ننداره کړي
گل خاندي خوشحالیږي څوک د خپل جوش نعرې کړي
گل د گلو اخلي پرې محو کے دواړه سرے کړي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغان په تیختر لاړه په بیدیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې چه صبا شي خوشحالي کړي
چه باد د صبا راشي پا نړے خاندي قوالي کړي
نغرے د زندۍ باد کړي زندن باد چه د قوالي کړي
خوشحاله تمام قوم په مرحبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې مصلحت کوي د عیش
هر یو په خپله ځ به اشارت کوي د عیش
دنیا کښې په دنیا خلق صفت کوي د عیش
ټول قوم مخامخ د رهنما کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا کوي خندل
محفل کښې چه خندا کوي هم دا کوي کښتل



ه د قوالي به مساوي نه وي خوک بل
لوس کښې د بنادۍ ټوټې داد اکیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ل کښې خوا په خوا آشنا آشنا کوي مذکور
ړه د خوشحالۍ نه معلومیږي مخ ضرور
اباره د سمبر د سالګیرۍ کیږي دستور
میدان کښې مجلسیان په رضا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ل کښې خوا به خوادي د یو بل نه تپوس نه
حق کښې د قوالي غواړي دعا ټول اولسونه
لوق کړي د خپل توانه خیرات نه مجلسونه
یاران د امیر حیدر لاس په دعا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح نمبر ۳

هر سړی موندلے لویه برښه ستا دَ لاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
دا خبره هم هر چا و ښکلے دَ خپل قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه په خدمت کښې ده
هر یوه صیقه دَ شرافت په صداقت کښې ده
ما هم اوریدلے دا ویناً دَ عوام النّاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
ما هم اوریدلی چه دَ قوم ځان خادم کښې
ته خدمت دَ قوم کړے، نه چه ځان حاکم کښې
تلے دا فقره دَ فکر پوره دَ وسواسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده



دا فقره دَ فکر پوره ستا دَ وصف ده
نده باد نغره هم هر یو لوړه ستا دَ وصف ده
عدل کړے انصاف کوے دا ستا دَ احساسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
عدل کړے انصاف کوے نه چه ته ظلمونه شته
نه په ترقی شوه دا سے نور قومونه شته
ښکل په اخبارا تو کښې لیک دَ حق ښناد سره ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
رست په اخبارا تو کښې لیک جهان زیبا ئے ته
مکه مهربانه په عاجز و غریبا ئے ته
تیزه رسائی دَ عقل ستا چه دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
تیزه رسائی دَ عقل ستا په سیاست کښې ده
قوم دَ اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښې ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک دِ چغل خور شی دَ چغل وینا خاسته دَه
هر سړی مونده لو یه برخه ستا دَ لاسه ده
ورک دِ چغل خور شی دَ چغل وینا اثر نه کړی
بل طرف ته کوچ به هیڅ امیر حیدر نه کړی
دا م عریضه به دَ سحر دَ التماس دَه
هر سړی مونده لو یه برخه ستا دَ لاسه دَه

## طرح ۲۸

دروغ نه دِی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شی

دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شی
لال نشی پټیدلے که به ایر و زیر زمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا یقین بکار دے
یقین دَ مسلمان دَ پاره ښه ښکلے کردار دے

PUKHTO.NET



عالم به نا جائزه چه بدل کوی گنهگار دے
رشتیا به خنګه پټ شی یو سړے که نکته چین شی
دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شی
رشتیا چه پټوی دا پټول گناه عظیم دے
سوات والی تر خپل استاد دَ خو کړے تعلیم دے
ظاهر نه دے دَ انصاف منصف مزاج عقل سلیم دے
هم دا سے نور قوم و نوله امام دِ جور آمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شی
هم دا سے نور قوم و نوله دِ شی امام ښکاره
غیرت به شجاعت کښی دَ آغستے نام ښکاره
دنیا کښی کوټه به کوټه بانده چه شی اسلام ښکاره
بیدار شی هغه قوم چه بادشاه دِ نیک حسین شی
دروغ نه دِی رشتیا دِی به رشتیا که دِ یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدار شي هغه قوم چه نیک خویه ئې حکمران وي
خدمت چه دَ مخلوق کوي په ده رب مهربان وي
هغه زمکه او غرونه کانړي لوټې ګلستان وي
په چا باندې نظر چه دَ خپل رب العلمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

په چا باندې نظر چه وي دَ رب هغه عادل وي
هغه ته مرتبې دَ خو اخلاقو هم حاصل وي
دَ سوات والي پښتانه خداي خبر چه څوک عاقل وي
په باره د سمبر کښې ځما چهاپ به مضامین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

په باره د سمبر کښې کور په کور باندې بنا دي دي
دشمن دې ئې ذلیل شي چه په زړه ئې ناسوړي وي
آزاد خو د غرزو ندې بل به څه دَ آزادي وي



په غیر دَ شریعت نه که قائم بل یو آئین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

غیر دَ شریعت نه ریاست کښې دستور نشته
صور دَ ناداني دَ دا ناوه قصور نشته
ینا کوم دَ ځانه ماته دې کښې ضرور نشته
شاعر امیر حیدر دې مولي نه کړي چه غمګین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

امیر حیدر بونیري

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلي اياز صاحب د کراچۍ نه

### طرح

یو زړه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

---

پرون د "پښتو" "نن" په خندا را غلو صبا له
زړې د ښادۍ ګونډې هډ هډ راوړې سبا له
غر د سلیمان د ننګه غږی ولاړ صدا له
پېغله د آیلم بیا جوړه شوه ده ګڼا له
بخت او تخت او تاج د خلکو تو ب ځنې زاریږي
که ناز د پښتونخوا باندې نازونه دی نازیږي
تقدیر په ګڼا سره او تدبیر ولاړ په کاله
فطرت په سره منګلو کښې چنار او د حیا له

PUKHTO.NET



نختر په نوراني غېږ کښې ضیا راوړه ضیا له
نشې له مستیو ډکې د صبا راوړې صهبا له
اقبال پر او تدبیر دواړه له مړانې قربانیږي
ښادۍ له خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیږي
فردوس د پښتنو د غوړیدلې پښتونخوا له
رضوان زېړي ورکړې هسې رنګې د دنیا له
وګړو نه د ښادۍ د ګوډي پرېښې هر چا له
حیرت هم ارادو د مشیت ته دې د وجا له
ملي پښتون آدم ته خلافت سپارلې کیږي
هواده د هیواد چه د ښادۍ په تال زنګیږي
خیبر چه چا خبر کړه د دې هسې رنګ احوال له
ور پوځ یم په د پوځ یم وجو بیا راغلو خلا له
کمال د پښتنو وزیږیدو ونګې له زوال له
کمال هسې کمال چه تکمیل مومي له کمال له

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازي چه تاته ګورم ننګيالي م را ياديږي
جهان زيبه! تاته ګورم ابدالي م را ياديږي

مبارک دې شه دا جشن اې په سيالو کښې بې سياله
يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحاله
پښتو په ګډه سره چه يې واک درا غلو تاله
ښادي به ولې نه کړي چه پخپله شوه واکواله
وارهٔ پښتانه په هر وطن کښې خوشحاليږي
نوبت چه نن د سوات په سردرو کښې ستا غږيږي

---

اياز کراچي



## ښاغلې عبدالمالک صاحب فکري

### تندوډاک - سوات

---

طرح

يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحاله

---

مرحبا فيض موندلې دې بېل بېل ستا د اقباله
مطمئن، خورسند، ستا په دور د باکماله
سوات دې که بونير دې دواړه خلاص شو د جنجاله
سوال ستا د عروج کوي هر څوک د ذوالجلاله
يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحاله
د رحمت يې قام له ګورې لارې صافې
ظلم دې ورک کړه فرشته چه د انصافې

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم چه اخلے مکمل وِی، نه کړے لا
ویراندے هر سو استا په اقبال شه دخپل سیالے
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

لوړه، که جوړه ده، که ختے دے که کمر دے
کلے دے که ښهر دے که سمه ده که غر دے
هر ځائ غوړیدلے ستا دعدل ښه څادر دے
نشته منزری هغه بیزو وَ تربیواله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

زړے وِی، که اوړے پکښې هر څوک خې مزے کوِی
یره تر هغه نشته خپلے خپلے مشغلے کوِی
امن او امان دے اے فکرِی نه څوک گِلے کوِی
قام د ستوا د علم په دولت شه مالاماله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله



## طرح ۲

### طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
هن رت چه دخزان ورپکښې اوکړه قلع قمع
لاره ن د بهار په ښه موسم شهٔ گلستان
نو د حدہ زیات شهٔ غوړنو او سپره دلوځان
هر گل شهٔ په خندا چه پسر لی او کړو اعلان
بلبل هم نغمه زن شه د وصال د گل په طمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

باغان د باغ لاړهٔ، مهربا نه شته خاوند
صیاد ورک شهٔ ظالم نغے غزیږی خوند په خوند
مستی کوِی خوشحاله دی پرند چرند په ژوند

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لوی دِی که واړه دی هر چا بیا موند له نفع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر دے
دا ورځ د سعادت ده ښکلے دَور بختور دے
وطن ټول چراغان دے ځکه باره دسمبر دے
رڼا د قمقمو ده هر ځائ بله ده هم شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضي دی د غازي نه په ښه شان سره قومونه
په دَورِ جهان زیب باندِ او باسی تل شکرونه
فکري یوازے نه هر یو منصف وائي حالونه
فیضیاب به ئے په فیض سره هر څوک دی نشته منع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---



## طرح نمبر ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
دا صرف زما نه، بلکه دا د عام الناس ده

فیض موندلے چا نه دے؟ څه و هر څوک دی؟ وایه
په ضمیر او مظلومان دی کوم ځائ؟ خدا یه
په کوټ او کوره حال احوال، نه چه دوره یه
نوره د انصاف دِ تیره زیاته د الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

لکه د اکبر دے سوات پتا باندِ روښانه شوه
نښان اوچت ئے دوره زرچه د هر چا نه شوه
اقبال د چا دے چه محفوظ د هر خزانه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کمال دَ دے دَ چہ منکول پرے ستا الیاسہ دہ

هر سرے موندے لو یہ برخہ ستا دَ لاسہ دہ

ن دَ قام دَ پارہ دلتہ هر ځائے اسکو لو نہ دِی

نو دَ ترقئے هم ستا دَ ورانډِ اِسکیمونہ دِی

هر خوا تہ موجود ستا دَ تعمیر بنہ مثا لو نہ دِی

دے دا حقیقت، هسے خبرہ نہ دَ قیاسہ دہ

هر سرے موندلے لو یہ برخہ ستا دَ لاسہ دہ

لاس پہ نام و لاړہ فکرے دُعاء ستا دَ اقبال کوِی

مراد دِ ستا حاصل شِی پہ دارین کښے دغہ سوال کوِی

تہ چہ رهبرِی کوے تفصیل ئے دَ اجمال کوِی

تا کو یا آغستے چرتہ خوند دَ اِلیاسہ دہ

هر سرے موندلے لو یہ برخہ ستا دَ لاسہ دہ



## طرح ۳

## دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شی

یو باغ دے پکښے تل چہ وی بهار

دور پکښے گرځی بلبلان کوِی چغار

دہ دَ جنت امن آمان پکښے بسیار

ان ئے خبردار دَ زمانے دے پہ اسرار

جنت بہ وایم ستاتہ کہ جنت پہ سر زمین شی

دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شی

دہ دَ جنت زیب و زینت لری بے شانہ

رت پکښے جوړ کړی مناظر دی لا بیا نہ

ری گل، غوټئ پانړے هم ناچ کوی دَ ځانہ

آواز دَ طائرانو اورید ے شی دَ هر خوانہ

PUKHTO.NET

احوال او ګوره راشه چه حاصل درته تسکین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

نظیر دے دَ جنت ښکلے دَ سوات زمکه نا مدار
طوطیان پکښې چغار کوی بے خوفه له آزار
دادَوَر بختور دے، دِی هر څوک شکر ګذار
خزان دِ مولا دُور لری دَ دے چمن ګلزار
په امن دَ آقا تو دِ دَ دے هر یو مکین شی

صد شکر دَ اکبر دے چه په امن کښې اوّل یو
دَ قحط کښې مکشته یو دَ هر قسم غوبل یو
اقبال دَ جهان زیب دے منظم او مدلّل یو
دَ علم په زیور سره فکری! ښه مکمّل یو
حافظ دِ دَ غازی ځون الله العلمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

(عبد المالک فکری، تندو ډاک سوات)



## فخر الشعراء جناب باغلے شیر محمد خان صاحب مینوش ترلاندی (صوابی)

طرح مصرع

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

هزار ځلے دشمن که ئے بے باکه نکته چین شی
هلال چه دَ خودئ چرے کمال سره قرین شی
جمال دَ قاهرئ ئے هله ستورے دَ جبین شی
دَ وحدت په ګوته کښې دَ سلیمانؑ هغه نګین شی
په تخت دَ حکومت باندِ فائز به بسهٔ تمکین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چې دِ محکم شهٔ نو قوّت ترې نه جوړیږی
چې پاک دِ شه قوّت نو حکومت ترینه جوړیږی
چې نیک دِ بصیرت شه، عدالت ترینه جوړیږی
که دروغ دِ وهٔ سیرت نو شجاعت ترینه جوړیږی
په ذات دَ جهان زیب کښې به داګل د رتهِ آئین شی
دروغ نه دِ ی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

پلاس کښې دِ قلم دَ مقدر وجود کتاب دے
دَ ژوند په سمندر کښې دِ اسمان فقط حباب دے
په سترګو دَ مؤمن کښې دَ ادراک جهان سراب دے
دَ دهٔ او دَ حق مینځ کښې د یر نرے غوندِ حجاب دے
اوچت شی دا حجاب چې چه روح ئې دَ شاهین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

دَ سوات دَ والی کارواره تعبیر دَ ژوند ګټې دے



جهان دَ تصوّر کښې ئې تفسیر دَ ژوند ګټې دے
صباحت ئې سراپا وینه تو قسیر دَ ژوند ګټې دے
په فهم و فراست کښې ئې تدبیر دَ ژوند ګټې دے
نظام په محکمئ دَ ښهٔ سیرت سره سنګین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

په هاره دَ مینوش کښې که دا طوق ئې دَ خدمت دے
... دَ والی صاحب نشان دَ محبت دے
... وجه لازم هما ئې نو ل عمر صفت دے
ملک چې چا حلال کړهٔ نو دا عین شرافت دے
کمال دَ حسن هم دے دا که ګورے چه نمکین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

شیر محمد مینوش تورلاندی، صوابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلے احمد جان صاحب نشتر علیگړه سوات

### طرح ۱

يو زه يواز ے نه يم په دے باندِ خوشحاله

---

دلشاد کړي آزاد شه هر نفر چه دَ جنجاله
يو زه يواز ے نه يم په دے باندِ خوشحاله
خوشحاله ټول وطن دَ رب په کرم عظيم دے
په دَورِ جهانزيب کښ چه موږ تحت شو لوَ دَ سياله
شکر بيا پرے شکر چه ئمونږ سته له دے ذات شه
معراج دَ ترقئ ځموږ نصيب دَ ذوالجلاله
پښتو نه راشه گوره ستا وطن څرنګ جنت دے
وا وره در ته وائي دَ هر ګل ژبان دَ حاله



اوج دَ ترقئ چه دَ دے ذات په مخ ئے بيا موند
ګړي هر نفر لکه سورما ځموږ دَ خياله
عزت دے که عظمت که دِ دولت دے جهانزيب
راحت وَ مسرت دے وصول تا کړه دَ اقباله
واور دَ خوږ وطن ته که غوږ کيدے خنکه وائي
اکر شه په دولت دَ خپل وطن دَ لايزاله
په در کښ دَ خالق په دَ نشتر وي دعا دا تل
آشنا کړه مونږ دَ خوږ وطن دَ ننګ دَ لوئ کماله

---

### طرح ۲

بلوطيان په ګلستان کښ په خندا کينا سته جمع

---

نو ته نيمه شپه کښ جهانزيب بله کړه شمع
بلوطيان په ګلستان کښ په خندا کينا سته جمع

PUKHTO.NET

اُو چت ئې کړه خوګ راګ پسې شروع شو نو بتو نه

مائِل شوه دَ هر مُلک دَ هر وطن نه و ته سمع

زاغان که خا پیرکِ وو روان کل شو نا [illegible]

رنړا دَ جهان زیب کړه له دې واړو قلع قمع

خوګ وطن څمونږ به دَ جنت نه یو حساب شي

دَ در دَ لایزال نه دَ نشتر شو داسې طمع

---

## طرح ۳

هر سړي مونده لو یه برخه ستا دَ لاسه ده

---

فِضا دَ کرم ستا چه نن پسې څمونږ لیا سره ده

هر سړي مونده لو یه برخه ستا دَ لاسه ده

سیرت دَ فرشتو نه فیض دَ نمر نه مِ آقا ځنې

حسین چهره دَ دې کړې لایزال عجب دَ ناسره ده



[illegible] سوات دَ ګلو کر خو دَ قسمت چه دِ اصلاح کړې

[illegible] ګنډلۍ مونږه نو لو ته زیباله بنځ خوا سره ده

وطن دَ پښتنو چه به رشتیا سره جنت کړه تا

دَ حال ژبه ګویا دَ هر چمن پرې دَ احساس ده

[illegible] شاد پښتنو دَ وطن زیبه جهان زیبه

[illegible] دَ حبادِ په کو دار دَ چپو را سره ده

طوطیان له دَ چمن برد تل ستائې په نغمو سره

منحوس زبان دَ زاغ ده چه محروم له دې سپاسه ده

[illegible] نه پښتون در ته قائل چه په احسان نه شي

[illegible] به کامیاب نه شي ثابت څمونږ دَ قیا سره ده

اے څمونږ سُلطانه مُبارک بیا مُبارک دِ شه

وینا دَ نشتر دا ده چه سرګنډلۍ له قطا سره ده

~~~~~~
~~~~~~

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۱۲

### در وغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

پښتون به خوار شی څنګه چه بادشاه ئے دا آمین شی
در وغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

نه یم ریاکار بچیان نه خوښ م ریاکار شی
ځای دَ ریاکار به په آخر کښې تحت ترین شی

کیده لې قدم ځما دَ سوات په سرزمین کښې ته
څوره کائینات چه څوک وطن ځما آئین شی

دے دَ دم قدم دَ عالیجاه بلند ځما ځمونږ
زیات به له دے حاله استقبال ځمونږ رنګین شی

آباد لرے خاوند حکمران ځمونږ دَ سوات
په سوال دِ دَ نشتر له فرشتو نه هم آمین شی

احمد جان نشتر سکنهٔ علیګرامه سوات

PUKHTO.NET



## شاغلے مولوی ضیاء الحق صاحب
## علیګرامه سوات

## طرح ۱۱

### یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

یو به تل حکمران اوسے اے شاه بلند اقباله
هر څوک دِ هر منډ کړه له خپل جوړ اولس نواله
ټول ستا دعاګانې کړی که څوک لوی دی که خوږ رساله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

جوړے چه ځائے ځمونږ دَ پاره مدرسے کړے
خو له دَ هر سړی دِ دَ علمونو هم سے کړے
معمور دِ کړه کل واړه دَ هنر او دَ کماله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه افغانان دي چه پېښه ئې شه شدت و

له روره اوله عزيزه ئې بغض وعداوت و

بل کار به لره دوی نه وه يې له جنګ اوله جدله

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

اوس ناست دي په آرام سره کوي عيش وعشرت

پيدا ئې يو له بل سره دے اُنس او مُحبت

تول ستا شکر کنا ردي خلاص د ظلم د جنجاله

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

جاري په هر مقام باندِ ستا بحر د کرم دے

نن ستا په اهتمام سره تول سوات باغ ارم دے

پاک رب دِ معمر په عمرِ نوح کړه نيک خصاله

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

پو هنر تل حکمران اوسے آشاه بلند اقباله



[illegible] په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وي

[illegible] سوات په سرزمين کښې جهانزيب دِ حکمران وي

دا سوال ځمونږ قبول کړے په فضل ذوالجلاله

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

پاک رب دِ معمر په عمرِ نوح کړه نيک خصاله

[illegible] ضياءالحق دے ستا غلام حلقه بګوش

[illegible] کړے له خپل لطف وکرم نه فراموش

د دا سے خاکسارانو پرورش کوه دُعاله

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

هر څوک دِ هر مند کړه له خپل جود اوله نواله

---

مولوی ضياءالحق، عليګرامه - سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



